# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## اې مسلمانانو! حزب التحرير تاسو ته د خير په کارونو کې د ګډون بلنه در کوي

د ۱۹۲۴م کال، د مارچ په ۳مه، د خلافت له ړنګېدو وروسته اسلامي امت تر داسې بې رحمه بریدونو لاندې و چې تر اوسه يې په تاریخ کې ساری نه دی لیدل شوي. اسلامي ښارونه اشغال شول، د مسلمانانو شتمنۍ غلا شوې، عزت او عظمت يې تر پښو لاندې شو او د دوی یووالی له منځه لاړو. دوی خپل ډال (خلافت) له لاسه ورکړ. دا هغه وخت و چې حزب التحریر په ۱۹۵۳م کال کې رامنځ ته شو، ترڅو خلافت بیا تاسیس کړي او اسلامي امت له دغه لوېدلي حالت څخه وژغوري او پر ځمکه د الله سبحانه وتعالی دین حاکم وګرځوي. نن ورځ حزب التحریر یو نړیوال سیاسي حزب دی چې د اسلامي ایډیولوژۍ درلودونکی دی او نږدې پنځوسو هیوادونو کې د خپل هدف لپاره کار کوي. د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره د الله سبحانه وتعالی په اوامرو او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم کار کوي تر څو اسلام یو ځل بیا په ژوند کې حاکم کړي.

حزب التحریر د دغه لارې د څارلو لپاره خپل ټول چمتووالی نیولی دی. د اسلامي عقیدې پر بنسټ يې اسلامي اساسي قانون جوړ کړی دی، چې له قران کریم او سنتو څخه سرچینه اخلي او ۱۹۱ مادې لري. په دغه اساسي قانون کې ټول احکام له حکومتولۍ څخه تر اقتصادي نظام، له تعلیم څخه تر ټولنیز ژوند او له کورني سیاست څخه تر بهرني سیاست پورې د ټولو شرعي شواهدو په نظر کې نیولو سره حل شوي دي.

حزب التحریر یوه مخلصه رهبري ده چې خپل امت ته هیڅ وخت دروغ نه وايي. په غوره توګه د امت د هیلو استازولي کوي. دغه حزب اسلامي امت ته ښودلې چې ۱۰۰ کلنه هیله او امید به يې پوره کوي. راشده خلافت په نړۍ کې یو ډیرېدونکی جریان او مناسب درمل دی. دا پروژه د نبوت پر منهج د راشده خلافت دولت دی چې د اسلامې عقیدې پر اساس به تاسیس شي او سم اسلامي نظام به پلی کوي. د الله سبحانه وتعالی دین به د هدایت او رڼا په توګه ټولې نړۍ ته ورسوي او مسلمانان به له تیارو څخه رڼا ته، له ذلت څخه عظمت ته، له فقر نه برکت ته او له بې عدالتۍ نه رحمت ته را وباسي. دا یو خوب او خیال نه دی، بلکې د الله سبحانه وتعالی وعده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری دی. د روښانه ذهن میوه، بصیرت، عقل، زیرکي او د سیاسي را تلونکې روښانه او ځلیدونکی ستوری دی.

اې مسلمانانو: حزب التحریر تاسو ته د دې پروژې د انجنیرانو او رهبرانو په توګه د کار بلنه در کوي تر څو د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړئ او د ژوند دغه اسلامي لارې ته بیا دوام ورکړئ. نو مټې مو بډ وهئ، شپه او

ورځ کار وکړی او له حزب التحریر سره څنګ په څنګ ودریږئ، ترڅو راشده خلافت تاسیس کړو او د اسلام پر اساس بدلون راوړو.

اې مسلمانانو: د خلافت مانا دا ده چې مسلمانان یو ځل بیا سره یو موټی شي. د خلافت مانا دا ده چې ټول تر یو چتر لاندې یووالی ومومو. د خلافت مانا دا ده چې حاکمیت باید د اسلام وي نه د ډیموکراسۍ او سیکولریزم. دا هغه څه دي چې حزب التحریر تاسو ورته دعوتوي. نو راشئ او د خپل هغه تلاش او قدرت چې الله سبحانه وتعالی در کړی مخه مه ډب کوئ تر څو د خلافت د تاسیس لپاره کار وکړي او یوځلې بیا اسلام په ژوند کې حاکم کړي. له موږ سره کار وکړئ تر څو راشده خلافت تاسیس کړو او دغه عدالت او مساوات ستاسو په وسیله ټولې نړۍ ته ورسیږي.

اې د قدرت او محافظت خلکو: موږ تاسو ته بلنه در کوو چې د راشده خلافت د تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ. حزب التحریر تاسو ته په دغه نیک کار کې د ګډون بلنه درکوي. نو راشئ، ناټو پرېږدئ او پر ځای یې الله سبحانه و تعالی مأخذ وګرځوئ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مو رهبر وي، نه د اسلام دښمنان امریکا او انګلیس. ایا د اسلام د حاکمیت او له ظلم څخه د ټولو مظلومانو د ژغورلو لپاره د الله سبحانه و تعالی لپاره په ټولو هیوادونو کې چې د اسلام لمر راپورته کېږي، لښکر نه را وباسئ؟ ایا تاسې هغه بلنې ته لبیک نه وایئ چې بیرته مو ځواک، حفاظت، ویاړ او عزت درکوي؟

أقيموا_الخلافة#

#ReturnTheKhilafah

#YenidenHilafet

**خلافت_بیا_تاسیس_کړئ#**

**د حزب التحریر- ولایه ترکیه مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۱۷مه**

**د حزب التحریر ولایه ترکیه مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۲هـ.ق کال، د رجب ۱۷مه

۲۰۲۱م کال، د مارچ ۱

د صدور گڼه: ۰۹/ ۱۴۴۲